# څوک چې ناداره کس (قرضدار) ته مهلت ورکړي او یا ورته له یو څه قرض څخه تېر شي نو الله تعالى به یې د قیامت په ورځ د خپل عرش تر سیوري لاندې راولي چې په هغه ورځ د هغه له سیوري پرته بل سیوری نه شته

له ابو هریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایې چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمایلي دي: "څوک چې ناداره کس (قرضدار) ته مهلت ورکړي او یا ورته له یو څه قرض څخه تېر شي نو الله تعالى به یې د قیامت په ورځ د خپل عرش تر سیوري لاندې راولي چې په هغه ورځ د هغه له سیوري پرته بل سیوری نه شته".

[صحيح دی] [الترمذي او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک قرضدار ته مهلت ورکړي او یا ورته له یو څه قرض څخه تېر شي، نو بدله یې دا ده چې الله تعالى به یې د قیامت په ورځ د خپل عرش تر سیوري لاندې راولي، په هغې ورځ چې لمر به پکې د بندګانو سرونو ته رانږدې شي او تودوخه به یې پرې زیاته شي. نو هېڅوک به سیوری نه مومي مګر هغه څوک چې الله تعالى په سیوري کړی وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4186